**لیکونکی** : پاول بوچایت(Paul Buchheit).

**منبع اودخپریدو نیټه** : کمان ډریم «2018-09-18» .

**ژباړونکی**: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

---

# دپانګوالي ما نیفیست « اعلامیه» : پریږدی چی بیوزله خلک ومری

## The Capitalist Manifesto : Let poor people Die




**سوداګريزې محافظه کار محافظه کاران هڅه کوي چې د دغو ډېرو زيان منونکو امريکايانو لپاره ژوند وکړي چې دا کار به دوام وکړي. (عکس: پنټرسټ / سکسيټ شاټ)**

*The root of the problem is the condemnation of anything 'social' as un-American, which has helped modern-day capitalists to justify their belief in individual gain by any means*

ددی ستونزی بیخ «ریشه»دهر «اجتماعی پدیدی» په بڼه د امریکا یی غیرامریکایا نوغند نه دی کوم چی خپل باورونه دعصری ننی پانګوالو ته دفردی ګټو دترلاسه کولو لپاره توجیه کوی .

د پا نګوالی اصلی ما نیفیست په کا ل (1958) کی د **لویس .و. کیلسو**( Louis.o. Kelso) اود **پروفیسور مورتیمر.جی. ادلر**(Mortimer.J. Adler) ا قتصا د پوها نو

په واسطه سره دهغو په تا لیف اوچا پ شوی کتا ب کی په نشر ورسید، هغوی د یو د موکراتیک پا نګوالی ټولنی درینتینی مدیریت کول اویا اداره کول دا سی په نظرکی نیولی اویا لاربښوونه کړی وه چي په هغه کی یو منل شوی عصری قانون دا سی با ید پلی شی چی دهغه قا نون له مخی ټول امریکا یا نو وتوانیږی چي د پا نګوا لی په «انقلاب» کي د مخکی په وړاندی د پرمختګ سها مو کي وشی کړلی چي فعاله ونډه واخلی .دا ډول ونډی اخیستنی دلوی اوپرمخ تللی تکنا لوژی په مټ سره (لکه دانرژی تکنالوژی په «1950» لسیزه کي) سره کیدای شو چي پلی شي اومونږ ټولو ته د ارسطو (Aristotelian) اود جفرسونین (Jeffersonian) ځا نګړی روش اوسلوک دا اجا زه راکړی دی چي په مجا نی بڼی سره هنر او پوهه (علم) زده کړو اوله هغه څخه دژوند په آزاد اوفارغو وختونو کی خوند واخلو اوځا ن په علم سمبال کړو دا ډول دموکراتیک سرما یه داری ته کولای شو چی د سهام لرونکو کارمندانو دمالیکیت د طرح یا دوړاندی کولو له لاری چی یواځی (ددریم) جنبش اویا غورځنګ پوا سطه سره ترویج ورکړی شوی ده وده ورکړو .

ظاهراً په کا ل (1958) کي یواځی یو ستونزی موجوده وه کوم چي اقتصا د پوها نو اوفیلسوفانو نشو کولای چی د خلکو نسبتاً نامحدود حرص او طمع د پا نګوالی د دولت دارګا نونو پواسطه سره وړاند یز وکړی ، هغوی داسی فکر کول چی نوی اوتا زه کا ر پا نګوالانو د هغه کا رګرانوسره چی سوسیا لستی ستراتیژی سره خپل تعلق تینګ کړی دی دهغو سره وروسته له جنګ جګړی څخه په تقلب با ندی لاس پوری کړي اما برعکس یوبل شي را مخ ته شو او هغه داچی د امریکی متوسطه طبقه د عصری تکنا لوژی د بهره وری یا د ګټي اخیستنی څخه محروم شول ، اویواځی د لسو کا لو په موده کي له (30) تریلیون دلار څخه زیا تی پیسی یعنی دهیواد تقریباً (1/3) شتمنی (10) سلنه امریکا یی ثروتمندا نو ته ورسید ل - په هرصورت ځنی دبا زاردخوشبینی خیا ل پردازان لکه والستریت ژورنا ل د سا لم اقتصا د په مورد کی پر ننی پانګوالی ټولنی په اتکا کولو با ندی ټینګا ر کوی چی دغه ډول خوشبینی ډیر بی مفهوم او بلکل بی معنی دي .

ددی ستونزی بیخ «ریشه»دهر«اجتماعی پدیدی» په بڼه دامریکا یی غیرامریکا یا نو غند نه دی کوم چی خپل با ورونه دعصری ننی پا نګوالو ته دفردی ګټو د ترلاسه کولو لپا ره توجیه کوی .

محا فظه کا ربډا یا ن دخپل اجتماعی مسولیتونو په درک سره ښه پوهیږي چی هغوی کولای شی چی دخپل شتمنی یوه برخه د مشاغلو اود بیکا رو خلکو لپا ره د کا ر په ایجا دولو اورامینځته کولو کی اود بیکا روخلکو د ژوند د سمون د پا ره وکا روی - حال داچی د هغوی یعنی د سرما یه دارانو ذ هن او عقل بی وزلان اوغریبان ملامتوی اوداسی انګیری چی د اپخپله غریبا ن دی چی ځا نونه پخپله غریبا ن کړی دي حا ل دا چی د ا خپله سرمایه داران دی چی دبی وزلو دوژل کیدو اودله مینځه وړلو دپاره زمینه برابروی ، نو لذا ویلی شو چی د پا نګوالی ما نیفیست (اعلامیه) پر نادارو خلکو باندی دیو مهاجم اوتیری کونکی ځواک په عنوان اغوښتی دی.

## دوه مخی سیاستوالو د مسموم کونکو افرادو په صفت:

د سرمايه داری تحرک یا ابتکا ر په ماشیکا ن او فلنت (Flint) کی دا وبو په تصفيه کولو کی څه رنګ با يد وی ؟ دا ډیر یو سا ده موضوع دی اوهغه داچي ديو څه کمی پیسی اوهم ديوڅه کم زيا ر اوهڅی سره کیدای شی چی دخلکو ژوند خوندی وسا تل شی حال داچی دنه پاملرنی په ترڅ کی خلک خپل ژوند دلاسه ورکوی او داځکه چي بازار د ګټی دترلاسه کولو د پا ره چمتو نه دی چي ګټی د سرمايه دار په جيب کی ولویږي .
دنړیوال لید له مخی د ژوند دچاپيرپال دککړیدو اود زهرجن کیدو له امله دا نسا نا نو د مړنی په ګراف یا میزان کی اوس له هروخت نه ډیر زياتوالی راغلی دی – په کال (1900) کی دنړی تقریباً (1،5) مليارد نفر او اوس دنړی نفوس(7،6) کوم چی په کال (2100) کی به دنړی نفوس ( 11 ) مليارد نفر ته ورسيږی نوکه چیری دژوند چاپيرپال ته دژوند دښه مساعد کیدوته پام ونشی نو دنړی نفوس په مجموع کی نه جبرانونکونکی ناورین سره به مخه شی ځکه چی د ژوند دچاپيرپال ککړ کيدنه دنه پا ملرنی له وجه په زيا تیدو دی لکه هغسی چی دنړی کارپوها نو دجدی خطراتو د مينځته راتلو سګنا ل تول مسلو مقاما تو ته ور رسولی دی کوم چی دهغه خطری عبا رت دی له تنفسی مکروبی ناروغی ، ملريا ، مينژيت (meningitis) ، تيفوس (Typhus) او وبا ( Cholera ) اودهغه په څنګ کی دغذای موادو کمښت دا ټول هغه څه دی چي دا نسان ژوند د خطر سره مخا مخ کوی . اوداځکه چی له دی نه چي دګډ همکاريو په کولوسره وړه زراعتی فارمونه د نړي په سرتاسرکی دمنا سبو خواړه دترلاسه کولو د پا ره په کار واچول شی برعکس لوی صنعتی واکمنانو لکه **ما نسا نتو** (Monsanto) او **دوپونټ** (Dupont) ځا نونه دی ته چمتو کړی دی چي زمونږ پرغذای موادو با ندی دکیمیاوی مضره موادو پواسطه سر تهاجم اویرغل وکړی .

## په مليونونو نفرچی صحی خدماتو ته لاس رسی نه لری زيا تو امريکا يا نو ته د مړنی معنی لری

: ديرش (30) مليونو امريکايی میشتيو وګړی بی له دی چی روغتیایی بیمه ولری دامریکی په دی بی سا ری پا نګوا لی تولنه کی ژوند کوی- دامریکی دمتحده ايالاتو عا مه صحی مجله پخپل يوه ګڼه کی د يو راپور په بڼه دا سی توضيح کړی دی: اوهغه دا چي ديو لړ تحقيقاتو په ترڅ کی دصحی بیمی په نه درلودو اود مړنی ترمينځ اړيکی ترلاسه کړی اوداسی تفسيروی هغه امريکايانو چی صحی بیمه نه لری اودکا راو دفعالت په عمرکی دی دهغوی دکلنی مړنی اندازه (140) سلنه زيا ت له هغه مقياس مړنی څخه دی کوم چي په کال (2002) د داکترانو پواسطه سره سروی شوی وه .
يو له ډیر آزارورکونکی اومخل بيلګی څخه کوم چی دتولنی په وړاندي صورت نیسی هغه دفرد نا منا سب رفتا ردی کومچی دمخدره (opioid) موادو اپيید يمی (Epidemy) را مينځته کیږی اوهغه داچی د درمل جوړونی دشرکتونو اجرايوی مديران دخپل اعتيا د راوړنکی دواګانو په اړه کوم چی پرهغو باندی ادعا شوی وه چی ددوی هغه دواګا نی چی با زار ته وړاندی کیږی خلکوته اعتيا د را مينځته کوی پخپل دغه ناروا کړنی باندی اعتراف وکړل اما سره دهغو داعتراف څخه بيا هم هغوی چا زندان ته ونه لیږل اويا هغو ته جزا ورنکړل شو .
ديو شپږ. کلن دوری په موده کی ددوايی ځنی لوی توليدکونکی شرکتونه لکه

د **امریکاسورس بیرګن** (Amerisource Bergen) او**میکسون** (McKesson) تقریباْ (یوملیارد ) تا بلیت چی دهغه په خوړلو سره اعتیاد میځنته راځی د ویرجینا په غرب کی مارکیټ ته عرضه شوی وه .

داجتماعی مسولیت په لرلواوبیا په ځانګړی بڼی سره باید چی دځوانانو اودزړو مراقبت ته زیات پا ملرنه وشی حا ل داچي په هر پنځه کس مړنه کی یو وا قعه د مخدره موادو سره په اعتیا د کی ژوند دلاسه ورکړی دی ، دهغه راپور له مخي چی په کال (2016) کی خپور شوی دی زیا ت خلک وروسته د مخد ره موا دو د لمړی دوز (تجویز شوی اندازه دوا ) ځخه په دی دوا با ندی معتا د شوی دی ، اما داسی په نظرراځی چی زمونږ اجتماعی مسولیت دپا نګوالی دابر قدرت تر پوشش لاندی په متمرکز بڼی سره قرارلری سره دهغه چی د مرګ ومیر میزان دوه چنده شوی هم دي. کوم چی د هغه اصلی سبب د مخدره موادو له حده زیات په مصرف پوری په دی شپږ کا لو کی اړین ګڼل کیږی . سربیره پرهغه ، همدا اوس په ایالتی مناطقو کی دمخدره موادو سره په اعتیاد کی بی له دی چي هغوی دمخدره موادو په مقابل کی لازم دوایی لاس رسی ولری په میلیونونو نفر ژوند کوی .

مونږ دخپل اجتماعی خصلت په درلودو سره دهغه افرادو سره کوم چی په مخدره موادوسره معتا د شوی دی خپل خواخوږی اویا همد ردی ښکا ره کوو حا ل داچي په یو ګټه راوړنکي اویا په یوه سوداور نړی کی چي قربا نیا ن د شکا رچیا نو په بد چلند سره بد بخته کیږی نوهلته بیا غمشریکی او همد لی په ټپه ولاړ اوخاموش وی اما دغه عیب او نقص داجتماعی پوها وی پواسطه سره اصلاح کیږی – اما تر هغه پوری چی مید یا اویا ټولنیز رسنی د افرادو د ګټی په طرفداری اوپلوی کی وی ، نو د جمعی هڅی اواند کوم چي غواړی یودبل په همکا ری سره دهیواد دخلکو روغتیایی حا لت ته پا م واړول شی اویا روغتیا یی حا لت سم کړ ل شی نا شونی ښکاری .

**یو ناڅا په موجی دیوالیه (مفلسی) پخپله ځا ن وژنه دي:** دزاړه یا د سالخورده امریکا یا نو د فیصدی دیوالیه د کا ل (1991) دری برابره شوی دي او هغه داچي ډیر ملامتیا یا دهغه عا مل په ټولنیز پوها وی پوری اړین بلل کیږی ، یو څیړنیز شبکی دخپل مطالعی اوڅیړنی ځخه داسی پایلی ترلاسه کړی چی دهغو کارفرما یا نو او دولتی ما مورینو کوم چی هغوی د خطر سره مخامخ دی اودهغو د تقاعد په معا ش کی کوم بدلون چی راغلی دی هغوی یی په ډیر تشویش کی سره اچولی دی اوپه عین حا ل کی زیات تشویش او سترس په هغه کارګرانو کی کوم چی دهغو د(۴۰) کلن اجورو یا د ستمزد په انډول کی رکود راغلی دی لیدل کیږی .

ناهیلی او نا امیدانه مرګونه دمخدره موادو ،اودالکل په په رانیولو او څکلو سره اوپه عین زما ن کي دځان وژنی دمرګونومیزان په دی وختونو کی دزیا تید و په حال کی دي

هغوی چی (۶۰) سلنه بی وزلی امریکا یا ن دی نو په هغوی کي (۲۰) سلنه مرګونه مخکی له وخته مینځ ته راځی له هغه وخته کوم چي پیړی بدله شوی دي یعنی له (۲۰) پیړی ځخه را په دی خوا اوپه عین زما ن کی دا قتصا دی ځا ن وژنی فیصد ی په دی وختونو کی خورا زیا ته شوی دي.

په امریکا کی دډیرو بی وزلو طبقو دژوند امید (توقع) اوس دسودان اودپاکستان دخلکو

د ژوند دامید په شان دی .
په هرصورت محافظه کاران سوداګر( دکسب اودکار څیښتنان) اوس په دی هڅه اواند کی دی چی د دغو ډیر په حا ل دزیان منونکو امریکا یا نو د ژوندی پا تی کید و شرایط لاپسی سخته کړی دوایی اسا نتیا و ته رسید ګی اود مخدره موادو د ازموینی د پا ره دوه وړاندیزونه دی کوم چی دبی وزلو خلکو د پا ره خوندی شوی دی – یعنی بی وزلی خلک بی له کوم خنډ څخه کولای شی چي پر هغو با ندی دوایی اویا د مخدره موادو ازما یښونه تر سره شی .
**دسوسیا لیزم ریښتینی معنی :** په ډیر ناوړو اوغمیزو شیبوکی کله چی دامریکا ښارونه دلویو طوفانوترناوړی اغیزی لاندی پریوځی نوپه دی وخت کی دولتی مامورین، سوداګران یا دکسب اودکارخاوندان پوځ ، اوبیا په ځانګړی بڼی سره عامه خلکو پرخپلو شخصی ګټوباندی فکر نه کوی بلکی غواړی چی دخپل همنوعانو دمرستی کولو دپاره ځان ځانګړی کړی یعنی خلکو دخپل مصیبت ځپلو ښاریانو سره مرستی کوی یعنی خپل ښاریان، ګاونډیان اومصیبت ځپلوته مرستی رسوی کوم چی دغه مرستی له کالیو ، غذایی مواد څخه نیولی بیا د روغتیایی اودوایی موادو پوری وی همدارنګه ځنی خیریه موسسی اوځنی سوداګرو دخپلو محصولاتو یوه برخه پر دغه مصیبت ځپلو خلکو باندی ویشي او هم ځنی منابع بیا د اعانی په توګه سره لاسته راغلی پیسی پردغو خلکو باندی ویشی – دولتی مقامات کوم چی د خلکو په رای ورکولو سره دی مقام ته رسید لی دی هغوی هم خپل توجه پر دغه خلکو با ندی معطفوی حتی چی نظا میا نو هم د خپل هلیکوپترونو پوا سطه سره خلکو ته چی په طوفان کی ګیر راغلی دی هغو ته نجا ت ورکوی داهغه وخت دی چی هیڅوک دپوستکی رنګ ، دین ، او .... ته نه ګوری بلکه هرهغه څه چی یی دلاسه کیږی دغه مصیبت ځپلو خلکوسره کمک کوی .
لهذا دسوسیالیزم دریښتینی معنی د ښوولو دپاره یواوږد غمیزی وخت پکار دی ، دا ددولت کنترول نه دی بلکه داپخپله خلک دی چی ځا ن د خوښی اوهمکا ری له لاری سا تي .
**---------------------------- په درنا وی (2018-09-25)**